# مطبوعاتي اعلاميه

## پولیس د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالی په ضد عمل کوی
## د خبرتیا کامپاین

**کابل، د ۱۳۹۱ کال د وږي ۱۴مه نیټه**

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق (UNFPA) او په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د پولیسو ماموریت (EUPOL) په افغانستان کې "پولیس د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالی په ضد عمل کوي" تر نوم لاندې د خبرتیا یو کامپاین پرانستلو. دغه افتتاحیه د رسمی مراسمو په ترڅ کې د یو شمیر چارواکو په ګډون تر سره شوه، لکه: د کورنیو چارو وزارت معین لوی پاسوال ښاغلی میرزا محمد یارمند: په اداری او عامه چارو کې د لویې څارنوالی مرستیال ښاغلی عبدالوکیل امینی او د ولسی جرګې د ښځو چارو د کمیټي مشره آغلی فوزیه کوفی.

د خبرتیا دغه کامپان د یو کارتونی کیسی پر بنسټ دی چې سرلیک یې دا سی دی، (د ښوونکی ملالی د ژوند کیسی، د پولیسو اقدام د تاوتریخوالی پر ضد). دغه کیسه د ښوونکی رویا د کورنیو ستونزو په هکله او له ښوونکی رویا سره د ښوونکی ملالی د مرستی په هکله ده. په دغه کیسه کې همدارنګه ښکارول کیږی چې ښوونکی ملالی څه ډول له خپلی همکاری څخه ملاتړ وکړي او د پولیسو په ماموریت کې د کورنیو تاوتریخوالی ته د ځواب وینی له اداری څخه مرسته او ملاتړ تر لاسه کړي. د کورنیو چارو وزارت به د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق او په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د پولیسو د ماموریت په ملاتړ دا سی یو پلان پلی کړي چې دغه کیسه په افغانستان کې تر ولسوالیو او کلیو پوری ورسوي. دغه پلان به د بیلا بیلو ادارو لکه د زونونو د قوماندانیو، ملی څارنوالانو، کورنیو تاوتریخوالو ته د ځواب وینی د ادارو، د کورنیو چارو د وزارت د جندر او د بشری حقونو د ریاستونو، د پولیس اکاډمی او د محلی پولیسو د ادارو لخوا پلی شي.

د دغو مراسمو په اوږدو کې د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق استازې وویل "د ښځو او نجونو ساتنه د افغانستان د امنیتی مسؤلیتونو د لیږد او له هغه څخه د وروسته کاری چوکاټ مرکزی ټکی دي. په دغه اړه په ساحه کې د پولیسو کارکوونکو رول ډیر مهم دي او په اکثره مواردو کې ساحوی پولیس هغه لومړي کسان دی چې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالی قربانیان ورته مخه کوي. د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق او د اروپایی اتحادیې د پولیسو د هڅو موخه دا ده چې د افغان ملی پولیسو او څارنوالانو ظرفیتونه لوړ کړي تر څو هغوی د جنیست پر بنسټ تاوتریخوالی وپیژنی او له قربانیانو سره په ښه او اخلاقی توګه چلند وکړي. د خبرتیا کامپاین چې نن پرانیستل شو ددی لپاره دی چې د هغو روزل شویو ښځینه او نارینه پولیسو له کار څخه ملاتړ وکړي چې د


***د لا زیاتو معلوماتو لپاره اړیکه:***

***ګایا کیتی ستریجیلی، د تبلیغاتو او اطلاعاتو متخصص*** *+93(0)707198909 chitistrigelli@unfpa.org*

*عزیز بسام مطبوعاتی او معلوماتو لوړ رطبه آمر: 120 037 700 (0) 93+, aziz.basam@eupol-afg.eu*

***ویب پاڼې*** *http://afghanistan.unfpa.org, www.eupol-afg.eu*

# مطبوعاتي اعلاميه

بشری حقونو او د کورنیو تاوتریخوالو ته د ځواب وینې په ادارو کې کار کوي او د جنیست پر بنسټ د تاوتریخوالی د قربانیانو څخه ملاتړ کوي."

د خبرتیا دغه کامپاین (پولیس د ښځو او نجونو په وړاندی د تاوتریخوالی پر ضد عمل کوي) په افغانستان کې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی پر ضد د ژمنو یوه برخه ده. دغه ژمنتیا له ډیر زیات مهال څخه را په دیخوا د ظرفیتونو د لوړوالی له لاری تر سره کیږي. د خپرونو د پلان د یوی برخی په توګه د (پولیس په افغانستان کې د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی پر ضد عمل کوي) تر نامه لاندی یو نوی روزنیز لارښود د ملګرو ملتونو د وګړو د صندوق لخوا د کورنیو چارو وزارت، د پولیسو ملی اکاډمی، د اروپايي اتحادیې پولیس، او نورو همکارانو سره په ګډه کار نن وړاندی شو. ددغه لارښود ټول محتویات د ملی قوانینو، اخلاقو، او کړنلارو څخه اخیستل شوی تر څو د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالی قضیې په ګوته کړي. سر بیره پر دی له قران کریم څخه او نبوی (ص) احادیثو څخه هم پکی ذکر شوی دي تر څو دغه لارښود له کلیواله شرایطو سره برابر وي.

همدارنګه ددغو مراسمو په اوږدو کې کارل اکه روګه د اروپايي اتحادیې د پولیسو د ماموریت مشر وویل، "د ښځو او نجونو څخه ساتنه باید د ټولنی د پرنسیپونو له اصلی ارزښتونو څخه وي. دغه موخې ته د رسیدو بنسټ دا دی چې یو مناسب قانونی کاری چوکاټ او د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د قربانیانو د ملاتړ یو ټولنیزه کلتور رامنځته شي، او د پولیسو لخوا مسلکی ځواب او د څارنوالانو لخوا د دغه شان قضیو ګټور او پوره چاڼ تر سره شي. دغه ټول موارد به په ګډه سره له ټولنی سره مرسته وکړي تر څو د ښځو په وړاندی له تاوتریخوالی څخه مخنیوی وکړي، قربانیان دی ته وهڅوی چې ددغه شان قضیو راپور ورکړي، او د افغانستان قضایی سیستم ته داسی شرایط رامنځته کړي چې د مجرمینو په وړاندی مناسب، مسلکی او عمل وکړي. د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق او په افغانستان کې د اروپایی اتحادیی د پولیسو ماموریت د افغانستان د اړونده قوانینو پر بنسټ د دغه شان جرمونو د قربانیانو سره د مرستی لپاره د افغان ملی پولیسو د اختصاصی ادارو له جوړولو څخه، په کلکه ملاتړ کوي."

د افغان ښځو په وړاندی د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو د ملګرو ملتونو کانوانسیون او د بشری حقونو تړون د ۱۳۸۲ کال د وری په میاشت کې تایید کړی دي. له همدی کبله د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق او د نړیوالې ټولنی نور غړی په دغه هیواد کې د نومړو بشری حقونو د تړونونو په بشپړه پلی کولو کې د افغانستان دولت څخه ملاتړ کوي.


**د لا زیاتو معلوماتو لپاره اړیکه:**

***ګایا کیتی ستریجیلی، د تبلیغاتو او اطلاعاتو متخصص +93(0)707198909 chitistrigelli@unfpa.org***

*عزیز بسام مطبوعاتی او معلوماتو لوړ رطبه آمر: aziz.basam@eupol-afg.eu, +93 (0) 700 037 120*

**ویب پاڼې** *www.eupol-afg.eu, http://afghanistan.unfpa.org*